الله تعالى ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "الله تعالى ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې هغه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري".

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى د خپلو بندګانو شکلونو او جسدونو ته نه ګوري چې آيا ښکلي دي که بدرنګه؟ ايا هغه لوی دي که کوچني؟ يا هغه روغ دي که ناروغه؟ او نه د هغوی مالونو ته ګوري چې ډير دي او که لږ؟ الله جل جلاله خپل بندګان پدې نه نيسي او نه ورسره پدې شيانو حساب کوي چې دوی پکې يو له بل سره توپير لري، مګر هغه د دوی زړونو ته ګوري او هغه څه چې د دوی په زړونو کې له تقوا، يقين، صداقت، او اخلاص څخه دي او يا له ځان ښودنې او شهرت څخه او هغه د دوی عملونو ته د سمون او فساد له نظره ګوري؛ نو ثواب او يا جزا پرې ورکوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4555